**د محترم محمد موسی، محترم مومن او محترم اجمل د محمد عیسی د زامنو غوښتنلیک متن:**

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

د علمي مجمع ریاست محترم مقام ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د قدر وړه؛

مونږ محمد موسی، مومن او اجمل د محمد عیسی زامن، زمونږ خپلې مور بي بي رحیمه بنت محمد ابراهیم، پر مونږ خپله یوه قطعه زمکه، چې د کاکړانو کلي جوی خوشګه کې موقعیت لري، په بیع بات خرڅه کړې او خپل حق یې ترلاسه کړای، چې سند یې په لاس کې لرو.

اوس زمونږ وربرونه فواد او فولاد د فقیر محمد زامن، مونږ ته بې ځایه تکلیف راکوي او په یاده زمکه کې د حقّیَت یا میراث دعوا لري.

د یادونې وړ ده، فقیر محمد زمونږ د مور (رحیمه بنت محمد ابراهیم) او پلار (محمد عیسی) په ژوند کې وفات شوی.

هیله ده، د شریعت په رڼا کې، د یادې مسألې د هوارۍ په موخه، شرعي حکم راته صادر کړئ.

په درنښت

محمد موسی

د ریاست مقام حکم: اجراءات وکړئ.

د افتا آمریت ګمارنه: محترم صدیقی صاحب! په اړه یې اجراءات وکړئ.

**حامدًا الله ومُصليًا على رسوله**

**الجواب باسم مُلهِم الصواب**

هغه څه چې د محترم محمد موسی، محترم مومن او محترم اجمل د مرحوم محمد عیسی زامنو، د استفتا په متن کې راغلي، په اړه یې باید وویل شي، چې هغه زمکه او ملکیت چې د محمد موسی د مور رحیمه بنت محمد ابراهیم ده، دوه حالتونه لري:

یو دا چې پر زامنو یې د زمکې د خرڅلاو اسناد شتون او صحت ولري، دا د اسلامي شریعت په رڼا کې، بیع ده. کله چې د دوو متعاقدَینو ترمنځ د صحیح شرعي عقد په اساس، بیع رامنځته شي، مشتري (اخیستونکی) د خپل ثمن په مقابل کې د مبیعې او بائع (خرڅونکی) د خپلې مبیعې په بدل کې د ثمن مالک ګرځي.

په دې هکله، د حنفي فقهې په یو معتبر کتاب کې راغلي: «**وحُكمه ثبوت الملك، أي: في البدلَين، لِكُلٍّ منهما في بدل، وهذا حُكمه الأصليّ، والتّابع وجوبُ تسليم المبيع والثّمن**» (رد المحتار ۵۰۶/۴)، یعنې: د بیع حکم دا دی، چې بَدلَینو (مبیع او ثمن) کې ملکیت ثابتیږي، مشتري لره په مبیعه او بائع لره په ثمن کې. دا یې اصلي حکم دی او تبعي حکم یې دا دی، چې مبیعه مشتري ته او ثمن باید بائع ته وسپارل شي.

همدارنګه د حنفي فقهې په یو بل معتبر کتاب کې راغلي دي: «**وحُكمه: ثبوت المِلك للمشتري في المبيع، والبائع في الثّمن إذا كان باتًا**» (الاختیار لتعلیل المختار ۴/۲)، ژباړه: د بیع حکم دا دی، چې مشتري لره په مبیعه او بائع لره په ثمن کې ملکیت ثابتیږي، که چیرې دا بیع، بیع بات وي.

په همدې اساس، که چیرې د مرحومې رحیمه بنت محمد ابراهیم هغه اقرار خط یا سند، چې په (۳۱/ ۵/ ۱۳۹۷) نېټه تحریر شوی، صحت ولري او تزویر پکې نه وي ترسره شوی، د دې اقرار خط له مخې، رحیمه بنت محمد ابراهیم د خپلې برخې د هغې قطعې زمکې قیمت ترلاسه کړای، چې د کاکړان په کلي کې موقعیت لري او پخوا یې په خپلو زامنو محمد موسی، مومن او اجمل خرڅه کړې وه، چې پر بنسټ یې، دغه بیع صحیح او شرعي بیع ده او محمد موسی له خپلو ورڼو سره، د دې زمکې شرعي مالکان بلل کیږي او د مرحوم فقیر محمد زامن پکې حق نه لري.

دویم حالت یې دا دی، چې بالفرض که رحیمه بنت محمد ابراهیم خپل ملکیت نه وي خرڅ کړای، بیا هم د فقیر محمد زامن چې د رحیمه بنت محمد ابراهیم لمسیان دي، د هغې د مال وارثان نه ګرځي؛ ځکه فقیر محمد د نومورې په ژوند کې وفات شوی او د علم میراث د قواعدو له مخې، د عصباتو په برخه کې، متوفی ته نږدې وارث له مړي څخه لري وارث محرومولي.

په دې هکله رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: {**أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا، فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ**} (متفق علیه)، یعنې: د متوفی مال اصحاب فروض (هغه څوک چې په میراث کې ټاکلې برخه لري) ته ورکړئ، له دې نه وروسته د متوفی له مال نه څه چې پاتې شي، هغه متوفی ته نږدې د نارینه وو وارثینو دی.

د همدې نبوي حدیث په اساس، د مرحومه رحیمه بنت محمد ابراهیم ژوندي زامن، د دې د میراث مستحقین دي، نه د هغې لمسیان یا د مرحوم فقیر محمد زامن؛ ځکه د دوی په پرتله، د دې ژوندي زامن (محمد موسی، مومن، اجمل) نوموړې ته نږدې دي.

له همدې وجې، د حنفي فقهې په معتبر کتاب کې راغلي: «**فإن اجتمَع أولادُ الصُّلب وأولادُ الابنِ، فإن كان في أولاد الصُّلبِ ذَكَرٌ، فلا شيء لأولاد الابن ذُكُورًا كانوا أو إناثًا أو مُختَلِطين**»(الفتاوى الهندية ۴۴۸/۶)، ژباړه: که چیرې صَلبي اولاد او د زوی اولاد سره یوځای وي، نو که چیرې په صلبي اولاد کې نارینه شتون ولري، د زوی اولاد، نارینه وي او که ښځینه او یا هم نارینه او ښځینه دواړه، په میراث کې هېڅ برخه نه لري.

په پای کې په لنډ ډول ویلای شو، چې پورته یاده زمکه کې د مرحوم فقیر محمد زامن هېڅ حق نه لري؛ ځکه دا زمکه یا خو محمد موسی او له فقیر محمد پرته نورو ورونو یې له خپلې مور څخه د هغې په ژوند کې په بیعې اخیستې ده او یا دا چې د زامنو په شتون کې لمسیان په میراث کې حق نه لري.

راقم الحروف:

محمد نور (صدیقی)